# تابش پوهنتون

# ژورنالیزم پوهنځی

# اروا پوهنه

# پنځم سمستر

## پنځم درس

استاد: سمیع الله (( ساپی))

بسم الله الرحمن الرحيم

د انسان او حیوان دروان ترمنځ عمده اساسي توپیرونه

حال دا چې د پرمختللي حیوان او انسان ترمنځ ځنې مشابهتونه او نږدې والی موجود دی ؛ لیکن بیا هم دا اساسي توپیرونه د دوی ترمنځ شته ،چې په لاندې ډول یې بیانوو:

۱ -انسان د کار کولو استعداد لري؛ لیکن په حیوان کې دا استعداد موجود نه دی ؛اګر چې ځنې پرمختللي حیوانات کله  ناکله د ځنې ساده وسایلو څخه کار اخلي ،لیکن هغه وسایل داینده لپاره حافظې ته سپارلی نه شي ترڅو خپل عملونه تقویه کړي ،اما انسان ډېر پېچلي وسایل پخپله جوړي ،هغه ذهن ته سپاري ،د استعمال ځای یې پېژني او هم یې راتلونکي نسلونو ته یې زده کوي.

۲- بل اساسي توپير د انسان او حيوان ترمنځ لسان (ژبه)ده،چې حيوانات د يوشي واقعي مانا بيانولی نه شي ،ځکه چې د حيواناتو ژبه د ځنو علامو او دغريزوي اعمالو سرته رسول دي ،چې دهغې پواسطه خپلې تجربې انتقالولای نه شي ،حال داچې انسانانو کليمې ،جملې او نور ځانګړې او مشخصې ماناوې لري ،چې د ژبې پواسطه خپلې انفرادي او اجتماعي تجربې نورو ته انتقالوي.

۳- د حيواناتو سلوک په عمومي شکل غريزوي خاصيت لري او هم د اوضاع اوشرايطو تابع دي ،ليکن انسان دشعور لرونکی ،عاقل اومستعده موجود دی ،چې لومړی په يوه موضوع درست فکرکوي ،هغه تحليل او تجزيه کوي او اينده يې پېش بيني کوي او هم انسان نړۍ ته تغير ورکوي.

۴- حیوانات د دغه رواني عملیو لکه فکر کول ،تصور ،توجه ،اراده او عواطفو څخه برخورداره نه دی ،آما په انسانانو کې د دغې عملیې ،د هغو د شعور ماهیت تشکیلوي ،چې د هغې پواسطه نه یوازې خپل شاوخوا محیط پېژني ؛ بلکې خپل ځان هدف ته رسوي.

۵- د انسانانو او حیواناتو روان په مختلفو شکلونو اوشرایطو انکشاف کوي ،چې په حیواناتو کې بیولوژیکي قوانینو په اساس انکشاف کوي ؛ آما په انسانانو کې اجتماعي قوانین عمده رول لري اوبیالوژیکي تاثیرات په دوهم قدم کې خپل رول لوبوي.

که چېرې موږ یوماشوم د ټولنې څخه لرې وحشي حیواناتو سره یوځای واچوو ؛نو ویلی شو ،چې د هغه ماشوم استعداد اوسلوک د نورو عادي ماشومانو په شان نه روزل کېږي ؛بلکې نسبت هغه ماشومانو ته چې په یوې انساني ټولنه کې روزل شوی وي ډېر توپیر لري.

۶- حیوانات د ځان پېژندنې استعداد نه لري؛ لیکن انسانان د ځان پېژندنې استعداد لري اوپه دې قادر دی ،چې هره موضوع تحلیل،تجزیه او ارزش يي درک کړي ،د ځان پېژندنه  دا امکان برابروي ؛ترڅو انسان خپل شعور ته انکشاف ورکړي او شاوخوا محیط ښه وپېژني ،تدریجي پرمختګ په حیواناتو کې قسماً توقف کوي ،لیکن د انسانانو پرمختګ د ټولنې د پرمختیا سره یوځای انکشاف کوي او پرمخ ځي.

# سلوک

سلوک د یو لړ فعالیتونو او اقداماتو مجموعه یا ټولګه ده ،چې د یوه هدف د سرته رسولو لپاره صورت نیسي او یا په بله وینا هغه فعالیت چې یو ټاکلی اومشخص هدف ولري اویا د یوې انګېزنې په مقابل کې ښکاره شي سلوک بلل کېږي.

ارواپوهانو سلوک په څلورو ډولونو وېشلی دی.

۱ -ذهني سلوک ـ دهغه سلوک څخه عبارت دی

،چې دهغه په سرته رسولو کې د ذکا او عقل څخه ډېر

کار اخېستل کېږي لکه د کتاب مطالعه کول په یوه

موضوع کې تحلیل اوفکر کول اودې ته ورته نور

مسایل.

۲- **هیاجانې (هیجاني)سلوک ـ** دهغه سلوک څخه عبارت دی ،چې زیاتره احساساتي منشاء لري لکه قهر ،حسد ،مینه ،عشق اوداسې نور.

۳- **ټولنیز سلوک ـ** ټولنیز سلوک دهغه سلوک څخه عبارت دی ،چې د خلکو ترمنځ اړیکي ټینګوي لکه د خپلوانو ،ټولګیوالو،دوستانو سره تګ اوراتګ اوداسې نور...

۴-**حرکي سلوک** – د هغه سلوک څخه عبارت دی ،چې د هغه په اجرا کولو کې د بدن غړي ډېره برخه اخلي لکه سپورتي فعالیتونه ،فوټ بال ،کرېکټ او داسې نور...

منته

واتساب

0782 88 6000